# زراعت ته وده ورکول

## ترتیب کننده : شیخ فرید الله ازهری

موږ د الله پاک په فضل سره ښه د حاصل لپاره برابره ځمکه، هوا او انساني منابع لروکه کوښښ وکړونو خپل هیوادوال د غله جاتو حبوباتو له لوري غني کولای شو او دا رنګه الله ﷻ انسان ته پراخ ډېر نعمتونه ورکړي دي لکه څرنګه چې فرمايي: ﴿ وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ النحل: ۱۸

**ژباړه**: ( که چېرې د الله ﷻ نعمتونه وشمیرئ نو وه به يي نشئ شمیرلی). په طبیعت کې د موجوده سرچینو يوه برخه د دې نعمتونو څخه نباتات تشکیلوي، نباتاتو چې په خاورو کې راشنه کيږي، بشر په مستقیم او غیر مستقیم ډول ترې ګټه اخلي، نو که چیرې ځنګلونه له منځه لاړشي او د سیندونو، چینو او کاریزونو او حاصلخيزې خاورې نه استفاده ونشی آیا انسان کولای شي خپل ژوند ته ادامه ورکړی؟ نو لازم دی هر هغه چا ته چې الله ﷻ دا مذکور نعمتونه ورپه برخه کړي وي هغه د ځان او نورو وګړو د استفادې ورکښت، کرکيله، ونې او نیالګیو کینولو مسؤولیت په خپله او يا په کروندګرو ادا کړي او د هغه ثواب مستحق وګرځي کوم چې رسول اکرم ﷺ په احادیثو کې هم د نیالګیو په کینولو او کښت ته په وده ورکولو او د هغه په ساتنه زيات ټينګار کړی او په دې برخه کې کوښښ کوونکي ته د اجر او ثواب يادونه کړې ده لکه چې فرمايي: « ما من مسلم يغرس غرسا، أو يزرع زرعا، فيأكل منه طير، أو إنسان أو بهيمة، إلا كان له به صدقة ».«۱»

**ژباړه**: ( هیڅ انسان نشته چې نیالګي کینوي او یا کښت وکړي او د هغه څخه الوتونکی( مارغه)، انسان او یا څاروی څه وخوري مګر دا د هغه لپاره صدقه ګرځي).

حضرت رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي: ( إن قامت على أحدكم القيامة، و في يده فسيلة فليغرسها). «۲»

**ژباړه**: که چېرې قیامت پر يو د ستاسو قايم شی په دا سي حال کې چې په لاس کې يي د کجورې نیالګی وی نو هغه دې کینوي. د قیامت د قیام څخه کیدای شی مراد علائم د قیامت وي.

د دې روايت په رڼا کې علماوو فرمايي: ( والحاصل أنه مبالغة في الحث على غرس الأشجار وحفر الأنهار لتبقى هذه الدار عامرة إلى آخر أمدها المحدود المعدود المعلوم عند خالقها فكما غرس لك غيرك فانتفعت به فاغرس لمن يجيء بعدك لينتفع) «۳»

**ژباړه**: حاصل دا چې دا( حديث) کې مبالغه دی په تيزي او تأکيد دې ونو په کینولو او د ویالو په کندلو سره، تر څو دا نړۍ تر هغه محدود او معلوم وخت پورې چې الله پاک ته معلوم دی ودانه او آباده پاتې شي لکه څرنګه چې نورو تا لپاره ونې کینولې دي او ته ترې ګټه پورته کوئ، نو دارنګه ته هم ونې کښنوه ترڅو د تا څخه وروسته راتلونکي ترې ګټه واخلي.

### د نیالګیو کینولو او زراعت حکم:

محمد بن عبدالله قرطبي رحمه الله فرمايي: ( والزراعة من فروض الكفاية فيجب على الإمام أن يجبرالناس عليها و ما كان فى معناها من غرس الأشجار) «۴»

**ژباړه**: زراعت او کښت د کفايي فرضو څخه دی په امام او حاکم د وخت باندې واجب دی چې جبرا په خلکو زراعت او هر هغه څه چې د زراعت په حکم کې وي لکه د نیالګیو کینول، عملي کړي.

الله ﷻ فرمايي: ﴿ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱسۡتَعۡمَرَكُمۡ فِيهَا ﴾ هود: ۶۱

**ژباړه**: ( الله ﷻ د ځمکی څخه پيدا کړي يي او ستاسو نه يي دې هغې آبادی طلب کړيده). نو دی مبارک آيت څخه په ډاګه معلوميږي چې هر هغه څه چې د ځمکې د آبادۍ لپاره په کار راځي، انسان ته دهغه کړل ضروری دي نو بناءً انسان ته ضروري دی چې خپل خليفه کېدل د ځمکې په آبادۍ کې وځلوي او کښت، زراعت او نیالګیو کینولو ته هم پام واړوي.

دا رنګه حضرت رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي: ( التمسوا الرزق فى خبايا الأرض). «۵»

**ژباړه**: رزق ولټوئ د ځمکي په کنجونو کې چې زراعت تری مراد دی نو معلومه شوه چې په عالم الأسباب کې د رزق لوی سبب هغه کښت، زراعت، کرکيله او د نیالګیو او ونو کينول دی، نو راځئ چی د خپل ګران هيواد اقتصاد د زراعت له پلوه پياوړی کړو ترڅو د نورو همسايه هيوادونو څخه د غلو دانو، حبوباتو، میوه جاتو، وړو او داسې د نورو موادو واردولو احتياج څخه ځانونه وژغورو او دا هيواد د فقر او غربت څخه خلاص کړو. حضرت رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي: ( اليد العلما خير من اليد السفلى). «۶»

**ژباړه**: پورته لاس( ورکولو) والا بهتردی له لاندې( اخیستلو) لاس څخه. دارنګه د نیالګیو کینولو په هکله دا حدیث دی پام وړدی: ( عن سلمان قال کاتبت أهلي علي أن أغرس لهم خمس مائة فسيلة فإذا علقت فأنا حر فأتيت النبي صلى الله عليه وسلم فذكرت ذلك له قال اغرس و اشترط لهم فإذا أردت أن تغرس فآذني قال فآذنته قال فجاء فجعل يغرس بيده إلا واحدة غرستها بيديَ فعلقن إلا الواحدة). «۷»

**ژباړه**: له حضرت سلمانؓ څخه روایت دی چې وایي: ما د خپل اهل او مولی سره په دې شرط مکاتبت عقد کړیوه چې زه به د دوی لپاره( ۵۰۰) د کجورو نیالګي کینوم په دې شرط چې هغه ټول میوه ونیسي، نو هله به زه آزاد یم، او بیا حضرت رسول کریمﷺ ته را غلم او دا خبره مې ورته وکړه، ویې فرمایل: کېنوه او شرط یې ومنه او کله چې دې نیالګیو کینولو قصد وکړو بیا ما پرې خبرکړه، کله مې چې د نیالګیو د کینولو خبرکړو، تشریف یې را وړو، پیل یې کړ او ټول نیالګي یې کینول یوازې یو نیالګی ما کېناوه، نورو ټولو نیالګیو میوه ونیوله؛ مګرهغه یوه نیالګي میوه وه نه نیوله چې ما کینولی وو.

د بوټو او نیالګیو کینولو کې اجراو ثواب دی؛ ځکه بوټې هم د الله ﷻ ثنا وایي لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿ وَإِن مِّن شَىْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ۗ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴾ الإسراء: ٤٤

**ژباړه**: هیڅ شی نشته مګر دا چې د الله ﷻ تسبیح وایي لکن تاسو د هغوی په تسبیح ویلو نه پوهیږئ الله ﷻ حلیم بخښونکی ذات دی. دا رنګه په حدیث کې راغلي دي: ( عن ابن عباس رضي الله تعالى عنهما أن النبي صلى الله عليه وسلم مر على قبرين فقال: إنها ليعذبان و ما يعذبان في كبير أما أحدهما فكان يمشي بالنميمة وأما الأخر فكان لايستترمن البول قال فدعا بعسيب رطب فشقه اثنين ثم غرس على هذا واحداً و على هذا واحداً ثم قال: لعله يخفف عنهما مالم ييبسا). «۸»

**ژباړه**: ( د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې حضرت نبيﷺ یو وار په دوه وو قبرونو باندې تیریدلو، نو وې فرمایلو دا دواړه په عذاب کې دي نه د کوم غټ څیز څخه، دا یوه به په شیطانت کاوه او دا بل به د خپلو بولو څخه ځان نه ساتلو؛ نو یوه د کجورې څانګه( شاخ) یې راوغوښتلو او هغه یې دوه ځایه کړو یو یې په یو قبر کینولو او بل یې په بل قبر کینولو او بیا یې وفرمایل: شاید له دوی څخه د عذاب تخفیف وشي ترهغو پورې چې دا وچ شوي نوی.

**د زراعت او نیالګیو ګټې**:

۱ـ د بوټو نیالګیو کینول او د هغوی څخه هرډول استفاده جاري صدقه ده او د هغوی کینونکي د حضرت نبي علیه السلام د دې حدیث مصداق ګرزیږي: ( عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: إذا مات الإنسان انقطع عنه عمله إلا من ثلاثة إلا من صدقة جارية أو علم ينتفع به أو ولد صالح يدعو له). «۹»

**ژباړه**: کله چې انسان مړشي عمل یې قطع( پرې) شی مګر له دریو څیزونو څخه جاري صدقه، نافع علم او نیک صالح اولاد دی چې ده ته دعا کوي.

۲ـ کښت زراعت او ونې نیالګي د موږ اقتصاد پیاوړی کوی، کښت زراعت او ونې نیالګي د موږ هیواد غنې کوی او د نورو همسایه ګانو هیوادونو د احتیاج څخه موږ ژغوري او د اقتصاد د قوت په حالت کې د موږ هیواد د خارجیو او ګاوندیو د مداخلي او لاس وهنې څخه ساتی.

۳ـ په بوټو، ونو او نیالګیو کینولو کې ځان او بل ته خیر او نفع رسول دي. کښت زراعت او ونې نیالګي د حاصلاتو د زیادت سبب ګرځي او نرخونه را کموي څرنګه چې د اقتصاد علم وایي کثرت( زیاتوالی) د سلعو او موادو سبب د ارزاني او قلت( کمښت) د سلعو سبب لوړوالي د نرخونو ګرځي.

۴ـ شنه بوټې او نیالګي الله ﷻ ته سجده کوي چه په کیفیت یې الله ﷻ پوهیږي څرنګه چې الله پاک فرمایي: ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسْجُدُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلْجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ ﴾ الحج: ۱۸

**ژباړه**: آیا نه ګورئ چې الله ته سجده کوي هغه څوک چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، او لمر، سپوږمی، ستوري، غرونه، ونې او ټول ژوندي خوځنده موجودات او ډېرله خلکو.

۵ـ بوټو نیالګیو کې د ځمکې ښکلا او ښایست منځ ته راځی لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنۢبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ﴾ الحج: ٥

**ژباړه**: هرکله چې په ځمکه اوبه را نازلې کړو نو هغه وخوزیږي او وپړسیږي او زرغونه کړي له هری جوړې تازه څخه. دا رنګه الله ﷻ فرمایي: ﴿ أَمَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَنۢبَتْنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنۢبِتُوا۟ شَجَرَهَآ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ ﴾ النمل: ٦٠

**ژباړه**: څوک دی هغه ذات چي آسمانونه او ځمکه يي پيداکړيدي؟ اوکوم ذات دی چي د آسمان له طرفه تاسو ته اوبه نازلې کړيدي؟ چي په هغو سره موږ تازه ښکلي باغونه را زرغونه کړو چي تاسي يي نسي زرغونه کولی د هغوونې، آيا الله سره بل د عبادت لايق شته بلکه دوی داسې قوم دی چي له الله ﷻ سره نورپه عبادت کی بر ابروي).

۶ـ د کښت کرکيله او نيالګيو کينول د چاپيريال ساتنه اود ګرد غبارپه دفع کولو کی مهمه ونډه ادا کوي او په پايله کې روغتيا او صحت منځ ته راځي.

۷ـ نوی څېړنې داسې ښايي چي ونې نيالګې په ځانګړې ډول هغه ونې چي پلنې پاڼې لرونکي دي په نسبت سره د هغوونو چې د ستنو په شان پاڼې لري د ځمکې د کورې د حرارت( تودوښې) کمښت کې مثبت تاثير لري.

۸ـ د زراعت او نيالګيو او د ونو په تقويت سره فقير انو غريبانو اوبی وزلو خلکو سره مرسته منځ ته راځی لکه چې الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿وَءَاتُواْ حَقَّهُۥ يَوۡمَ حَصَادِهِۦۖ﴾ الأنعام: ١٤١

**ژباړه**: د لو په وخت کې( د الله ﷻ حق ورکړئ). چې عشر او نصف عشر تری مراد دی؛ ځکه په غله دانو او ميوه جاتو او سزيجاتو کې عشر يا نصف عشر ( لسمه يا شلمه) لازم دی چې په ورکولو سره يې د فقير انو او مسکينانو حالت کې بدلون راځي او دوی سره د مرستو سبب ګرزي.

۹ـ د ونو نيالګيو په کينولو سره د بيا رغونې چارې محکميږی؛ ځکه په المارېو، دروازو، ګړکيو او داسې نورو لارو چاروکې په کارراځي او له دې لارې ډيرو وګړو ته د کارزمينه بر ابريږي.

۱۰ـ هغه ميوه جات، غله داني او سابو چي د کښت او د ونو څخه لاس ته راځي د بدن او جسم په روغتيايې برخه کې پوره ونډه لري؛ ځکه بدن له هغوی څخه پروټين، ويټامينونه، منرالونه او داسې نورد اړتيا وړ څيزونه لاسته راوړی، هم دارنګه بوټي ميوه جات په درملو کې کارول کيږی چې د انسان صحت او روغتيا منځ ته راولي.

۱۱ـ ونې د ژوند په اوږدوکې د غرونو په احاطه کولو ښکلې فضا، د هوا د پاکی د اوبو منابعو ساتلو او د وحشی ځارويو د پناه وړلو په چاروکی پوره چاپيرياڵي ونډه لري، هوا حالات، د لمروړانګی، باد او نورونو پوري تړلې دي. په اوړی کې د لمروړانګی دونو پاڼو په ذريعه جذبيږي او په ژمي کې د فلترشوي هوا په توګه طبيعت ته بيرته ورکول کيږی. په اوړي اوګرمه هوا کي د ونو شين اويخ سيوري ته پناه وروړو، له همدې کبله په کورونو او يا چاپيريال کې ونې کينوو.

و صلى الله تعالى على محمد و على آله و أصحابه أجمعين

**مؤخذونه**:


١– صحيح البخارى، رقم الحديث : (٢٣٢٠)، مكتبه شامله.
٢ – مسند الامام احمد، حديث رقم : (١٢٩٠٢)، اسناده صحيح على شرط مسلم. شعيب الأرنؤوط بتحقيقه على مسند الامام أحمد، مكتبه شامله.
٣. فيض القدير شرح الجامع الصغير، لزين الدين محمد المدعو بعبد الرؤوف المناوي القاهري (المتوفى: ١٠٣١هـ)، حرف الهمزة، ټوک٣، مخ٣٠. مكتبه شامله.
٤– الجامع لأ حكام القرآن لأحمد بن عبدالله القرطبي، المتوفى عام ٦٧١، ټوک٣، مخ٣٠٦، مكتبه شامله.
٥– الجامع لأ حكام القرآن لأحمد بن عبدالله القرطبى، المتوفى عام ٦٧١، ضعيف الجامع الصغير وزيادته للألباني بحديث رقم، مكتبه شامله.
٦. متفق عليه.
٧. مسند الامام احمد، حديث رقم: (٢٢٦١٤).
٨. متفق عليه عن ابن عباس رضي الله عنهما.
٩. صحيح الامام مسلم، باب ما يلحق الانسان من الثواب بعد وفاته، د حديث شميره: ١٦٣١، مكتبه شامله.